هېواد

۴ مخ

# مسير

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د فبروري لسمه | ۵۱۱مه گڼه


## منگولیا

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا یو پرمختلونکی هېواد بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي.



## پر امریکايي ځواکونو خونړی برید؛

## په ننگرهار کې یوه بریدگر اتو امریکايي عسکرو ته مرگ ژوبله اړولې ده



۳

د پلاوي نه ټاکل، د سولې مخالفت او ولسي فشارونه
۲ مخ

تاریخ او د جمهوریت په نوم آمریتونه
۲ مخ

د مالي مسایلو کنټرول مو د سټریس له کموالي سره مرسته کوي
۵ مخ

## د اسیا پراختیایي بانک د لویو لارو د بیارغونې لپاره ۱۲ میلیونه ډالره مرسته کوي



په افغانستان کې د اسیا پراختیایي بانک چارواکو ویلي چې په شمال او لوېدیځ کې د لویو لارو د بیارغونې لپاره د ۱۲ میلیونو امریکايي ډالرو مرسته کوي. دوی ویلي چې په دې مرسته کېدونکو پیسو به د کابل- هرات او د هېواد په شمال کې د لویو لارو تخنیکي څېړنې هم وشي.

په کابل کې د اسیا پراختیایي بانک رییس نرېندرا سنگرو دغه راز ویلي: «د مرستو له دغې کڅوړې، موږ په ختیځ او لوېدیځ کې د لویو لارو چې پکې د کابل- هرات لاره هم شامله ده، څېړنه کوو، دا لاره او همدا راز د هېواد په شمال کې دویمه پروژه د افغانستان لپاره ډېره مهمه ده.»

په همدې حال کې د کابل- کندهار پر لویه لار د یادونې ده چې د کابل- کندهار لویې لارې په گډون، د هېواد لویې لارې په تېرو کلونو کې پر لوړ لگښت جوړې شوې، خو اوسمهال یې ډېری پلچکونه وران شوي دي.

## کابلوف: طالبان له امریکا سره تر هوکړې وروسته له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو دي

د افغانستان لپاره د روسیې ځانگړي استازي ضمیر کابلوف ویلي، طالبان له امریکا سره د سولې تر تړون وروسته، له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته چمتو دي. سپوتنیک اژانس د نوموړي له قوله لیکلي، طالبان له امریکا سره د تړون تر لاسلیک وروسته چمتو دي چې له افغان حکومت او سیاسیونو سره مخامخ خبرې وکړي او دغه راز به په هغه وخت کې پر اوربند هم خبرې کېږي.

کابلوف دغه راز زیاته کړې چې اوربند د بحث وړ موضوع ده، خو اوس یې په اړه نظر ورکول تر وخت مخکې خبره ده. نوموړي ویلي، تر اوسه مشخصه نه ده چې توافق څه ډول دی او دغه راز د تاوتریخوالي کمولو موضوع هم، خو په وینا یې ښه ده چې په دې اړه پر خپل وخت بحث وشي. کابلوف د خپلو خبرو پر دوام ویلي، په ۲۰۱۸ ز کال کې د اوربند تجربې وښوده چې طالبان په ټولیزه توگه پر خپلو وسله والو کنټرول لري، نو غوره ده چې لومړی بین الافغاني خبرې پیل او وروسته پر نورو موضوعاتو خبرې وشي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ خبرې یوځل بیا ټکنۍ شوې دي. طالبانو ویلي چې دغه خبرې د امریکايي لوري له خوا د نویو غوښتنو له مطرح کېدو وروسته ټکنۍ شوې او خبرداری یې ورکړی چې د دغه هرڅه مسوولیت به د امریکا پر غاړه وي.

## د افغان معلولینو وضعیت د اندېښنې وړ دی



۳ مخ

## منابع: خلیل‌زاد از طالبان خواسته است که با کاهش ۴-۵ ماهه‌ی خشونت‌ها موافقت کنند



منابع نزدیک به طالبان به یکی از رسانه های خصوص گفته است که زلمی خلیل‌زاد از طالبان خواسته است که با کاهش چهار تا پنج ماهه‌ی خشونت‌ها موافقت کنند.

هرچند گفتگوهای امریکا و طالبان به کندی پیش می‌رود؛ اما عبدالشکور مطمئن، عضو پیشین گروه طالبان از پیشرفت‌ها در نشست‌های غیر رسمی زلمی خلیل‌زاد، نماینده‌ی ویژه‌ی امریکا برای صلح افغانستان با نماینده‌گان طالبان در قطر سخن می‌گویند.

آقای مطمئن در ادامه گفته است که در این نشست‌ها، آقای خلیل‌زاد از طالبان خواسته است که طرح کاهش خشونت‌ها را برای چهار الی پنج ماه بپذیرند تا زمینه‌ی برقراری آتش‌بس فراهم شود.

اما جک کین، معاون پیشین رئیس ستاد مشترک ارتش امریکا نسبت به گفتگوهای امریکا با طالبان اظهار نگرانی کرده و گفته است که تمرکز این گروه بیشتر بر سرنگونی دولت افغانستان است.

در همین حال، مسعود ترشتوال، سخنگوی شورای حراست و ثبات افغانستان تاکید می کند که حکومت و سیاست‌گران کشور نباید در روند صلح بر حذف هم‌دیگر تلاش کنند؛ زیرا تلاش‌های پراکنده وضعیت را پیچیده‌تر خواهد ساخت.

جریان‌ها و چهره‌های سیاسی در حالی برای یک اجماع ملی در پیوند به صلح تاکید می کنند که تاکنون گام‌های مؤثری که بتواند تمامی جریان‌های سیاسی و حکومت را در یک مسیر بسیج کند، برداشته نشده است.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

### د پلاوي نه ټاکل، د سولې مخالفت او ولسي فشارونه

په کابل کې ځینو سیاستوالو یو ځل بیا غوښتنه کړې چې حکومت دې د بین لافغاني خبرو لپاره پلاوی وټاکي. دوې ورځې وړاندې هم په کابل کې سلګونو کسانو او دیني عالمانو پر حکومت له دې امله نیوکې وکړې چې پلاوی نه ټاکي او په دې سره د سولې مخالفت کوي. په هرات، کندهار او ځینو نورو ځایونو کې هم غونډې شوې دي او له حکومته غوښتل شوي چې د بین الافغاني خبرو لپاره پلاوی وټاکي. حکومت په دې اړه په رسمي ډول څه نه وایي، خو په ښکاره د پلاوي د نه ټاکلو خبره هم نه کوي.

که څه هم د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې خبرې له نامعلوم برخلیک سره مخ دي؛ خو د دواړو اړخونو له لوري د سولې هوکړه نهایي شوې او یوازې لاسلیک ته پاتې ده. په دې منځ کې د امریکا له اړخه د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه کېږي او امریکایي چارواکي بیا بیا وايي چې طالبان باید د تاوتریخوالي په کمولو کې خپله اراده ثرګنده کړي. طالبان بیا وايي چې د تاوتریخوالي د کمولو طرحه یې وړاندې امریکایي لوري ته سپارلې، خو دا امریکایان دي چې متضادې خبرې کوي او متزلزل دریځ لري. داسې ښکاري چې امریکا د سولې هوکړه لیک د ځینو مسایلو لپاره ځنډوي. دا هوکړه به لاسلیک کېږي، خو داسې ښکاري چې ټرمپ یو مناسب وخت ته ګوري چې له دې هوکړې په امریکا کې د ننه په ټاکنیز کمپاین کې استفاده وکړي.

دا حتمي ده چې د امریکا او طالبانو تر منځ به هوکړه لاسلیک کېږي. نه د ولسمشر غني او ملګرو مخالفت یې او نه هم بل څه د دې هوکړه د لاسلیک مخه نیولی شي. زموږ افغانانو لپاره دا یو لوی پرمختګ او چانس، خو یو امتحان هم دی. د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې له لاسلیک وروسته کیسه ټوله افغاني کېږي او هر څه به بیا په موږ پورې اړه ولري. دا په واقعي مانا یو ښه چانس دی، چې پکار ده له دې اوږدې او خونړۍ جګړې د وتلو لپاره ترې استفاده وشي. که موږ ونه توانېږو چې له دې چانس څخه ګټه واخلو، نو نه یوازې دا چې جګړه به غځېږي، بلکې بیا به ټوله پړه هم یوازې پر افغانانو وي. تر اوسه پورې خو موږ امریکا، پاکستان او نور بهرنیان پړه ګڼو چې له شک پرته پړه هم دي، خو که موږ دا فرصت له لاسه ورکوو، بیا به اصلي پړه زموږ پر غاړه وي. ولسمشر غني او څو دوه پاسپورټه ملګري یې باید د خپل واک د دوام او شخصي ګټو لپاره له ولس سره دا ظلم بند کړي. افغانان د سولې لایق دي، دا وحشت او جګړې باید نورې ختمې شي او افغانستان ته باید امن او ثبات را وګرځي. حکومت باید ژر تر ژره د حکومتي او غیر حکومتي استازو په ګډون، د بین الافغاني خبرو لپاره یو ملي او ټولمنلی پلاوی وټاکي. د پلاوي دا ټاکنه ښایي د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې له ژر لاسلیک سره هم مرسته وکړي، خو له شک پرته د بین الافغاني خبرو په برخه کې به لومړنی، مهم او ارزښتمن ګام وي. که ولسمشر غني او ورسره له بهره راغلي څور نور کسان لا هم د سولې مخالفت کوي او پلاوی نه ټاکي، نو افغانان مجبور دي چې له دوی پرته پر بله لاره او پلاوي کار وکړي.

# تاریخ او د جمهوریت په نوم آمریتونه

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

**لومړۍ برخه:**

د جمهوریت په اړه د نظریاتي بحث پیل له یونانه شوی، ویل کېږي چې د یونان هغه وخت ټولنه له ناامنۍ، کورنیو جګړو، سیاسي اړو دوړ او په ټوله کې د ګډ ټولنیز ټیکاو له نشتون څخه کړېده. یونانیانو په دې برخه کې بېلابېل د حکومتواله ډولونه چې له شاهي نیولې بیا تر پولیسي، اولګارکي او په پای کې تر جمهوریته پر کار واچول او له دغو مختلفو تجربو وروسته دې پایلې ته ورسېدل، چې جمهوریت د سیاسي نظام د پایښت، ټیکاو، مشروعیت او ولس ته د واک ورکولو په برخه کې د حکومتواله له نورو ماډلونو څخه په توپیر ډېر روښانه، د ولس په ګټه او د خپلسرۍ، ځانچارۍ او استبداد رنګ پکې په نشت حساب دی.

وروسته والتیر، مونتیسکو او روسو چې درې واړه فرانسوي مفکرین او فلاسفه دي، د جمهوریت بحث پراخ او د ولسواکۍ پر بنسټونو یې د ولس ونډه، بڼه او ځرنګوالی لکه د ټاکنو د قواوو د رامنځ ته کولو له لارې د واک ویش او په ټوله کې د ولس د ګډون او څار په برخه کې پراخ او مهم بحثونه ور زیات کړل.

**د جمهوریت په نوم ناجمهوري حکومتونه**

د زاړه استعمار او سړې جګړې له پای ته رسېدو سره، نړۍ په دې هیله او فکر وه چې نور د یوې ایډیالې بشري ټولنې د واکمنۍ زمانه ده، چیرته چې یرغلګر، د لویو شرکتونو استثمارګر خاوندان، د وژونکو وسلو کاروباریان او په ټوله کې پر دومره ستړې نړۍ د یوه کس، ډلې، هېواد او ایډیالوژۍ د حکومت کولو خیالات پای ته رسېدلي ښکاري.

ځکه لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې او تر هغه را وروسته د سړې جګړې په بڼه کې د ختیځ او لوېدیځ ټکرونو نړیوال انسان یقیناً چې خورا ستړي کړي وو. مګر کم وخت لا نه و تیر چې د نړۍ لومړۍ درجه وینه زبېښونکي، حریص، تاړاکګر او نیواکګر ځواک امریکا د کرملین د ښامار پرخلاف د نړۍ د تېرولو، خوړلو او په تاریخ کې د یو بېساري وحشت او یرغل پړاو پیل کړ. د فرانسیس فوکویاما د لیدلورو پرخلاف یې د بریژنسکي، هنري کیسنجر او ساموئل هانټینګټون اندېښنې، د شرارت او فتنې وړاندوینې او وړاندیزونه یې د جمهوریت او ولسواکۍ په نوم د جمهوریت او ولسواکۍ د غوښتنو او ارونو پرخلاف د یرغل، تاړاک او نیواک له لارې ګام په ګام عملي کړل، هغه چې تاسې د دې ځرګندې بېلګې د جمهوریت په نوم او له جمهوریته د دفاع داعیې پر بنسټ د فلسطینیانو له خپل او په خپل کور کې بې وطنه کېدل، د اسراییلو د اشغالګریو روا بلل او د جنایتونو یې مالي او سیاسي ملاتړ د دې ناجمهوریته کردار داسې بېلګه ده، چې د امریکا اروپایي متحدین یې هم عار او شرم ګڼي.

پر ګران وطن افغانستان، عراق، لیبیا یرغل او د سوریې، ایران، مصر، ترکیې او لسګونو نورو ملتونو د حکومتونو د چپه کولو او د هغوی په کورنیو چارو کې یې لاسوهنه د ټرمپ خپل ملت ته په څلور کاله کې له ۱۶۰۰۰ ځله څخه زیات درواغ ویل، د ګوندي نا مشروع سیالۍ په لړ کې د ټرمپ له لوري د خپل ډیموکراټ سیال جوبایډن د رسوایۍ په خاطر پر اوکراین فشار او تر دې وړاندې د بیل کلنټن اخلاقي رسوایي؛ هغه جنایتونه، فسادونه او رسوایۍ دي چې د جمهوریت په نوم او دفاع کې د جمهوریت او ولسواکۍ د نړیوالې دفاع په ټاټوبي امریکا کې شوي.

له دې پرته په نوره نړۍ کې هم په استبدادي، پولیسي او اولګارکي حکومتونو کې د جمهوریت په نوم تل له ناجمهوري لارو واک نیول شوی، دوام یې ورکړی او حتی ټول کردارونه یې د جمهوریت او ولسواکو مفاهیمو سره د ټکر څه چې د دښمنۍ تر کچې روان کړي دي.

د بېلګې په توګه، پر سعودي عربستان، مصر او اسراییلو د امریکا او اروپایانو د وسلو پلورل چې پایله یې لا له وړاندې لکه د اسراییلو یرغل او د مصر او سعودیانو د یمن، سوریې او لیبیا بمبارد دی.

په دې برخه کې لړ سر افریقا ته هم ور ښکاره کوو او هلته د جمهوریت په نوم د هغو مستبدو حکومتونو، ډیکتاتورو واکمنانو او د جمهوریت او ولسواکۍ د دښمنانو جاج اخلو چې څنګه په ظالمانه ډول د خپل ولس شتمنې تروړې، په پیخرو فساد یې کړی او په ټوله کې په ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې یې د استبداد، بلواکۍ، خپلسرۍ او بې عدالتۍ چاره د خپلو مظلومو ملتونو تر هډوکي رسولې.

د بېلګې په توګه، د انګولا ډیکتاتور واکمن ژوزه اډوراډو دوس سانتوځ ۳۸ کاله کېږي چې په زور، جبر، فساد او ډیکتاتورانه توګه د دې بې وزله شوي ملت پر هډونو واکمني کوي، نوموړی د خپلې لور ایزابل دوس سانتوس په نوم د لسګونو شرکتونو له لارې میلیاردونو ډالرو له فساده ډکو معاملو له لارې، د دولتي قراردادونو په نوم د خپل ملت شتمنۍ چور کړې، حال دا چې ۲۹ سلنه وګړي یې د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي. همدارنګه د نیجریې ولسمشر اولوسګان اوباسانجو چې له ۱۹۹۹ تر ۲۰۰۷ ز کال پورې واکمن و، په خورا بېړه او پوپولیستي ډول یې د خپل هېواد ټول اقتصادي بنسټونه ملي اعلان کړل او یوازې د بریښنا په برخه کې یې ۱۶ میلیارده ډالر پانګونه وکړه او په پایله کې یې حتی د بریښنا یوه ملي ذخیره هم جوړه نه کړه. بلخوا دا کردارونه استثنا نه دي، بلکې په افریقا کې د جمهوریت په نومونو د بدنامو، مستبدو او ډیکتاتورو حکومتونو اوږد او له ترخو ډک تاریخ لري، لکه د لیبیا واکمن چارلز تیلور، د کنګو ولسمشر ژان پي یر بمباد، د زامبیا مستبد ولسمشر فدریک چیلوبا، د چاد واکمن حسن هابره، د زیمبابوې ولسمشر رابرټ موګابي او د اتیوپې فراري مستبد منګیستو د پېرۍ د هغو لسګونو خپلسرو بدنامو نومونه دي، چې د یوه په واکمنۍ کې کله هم د دغو هېوادونو ملتونو د جمهوریت او ولسواکۍ بوی او رنګ نه دی لیدلی.

افغانستان، دودیزه ولسواکي او د جمهوریت په لار کې لومړني ګامونه په ۱۹۲۳ ز کال کې افغانستان لومړنی اسلامي هېواد و چې اساسي قانون یې درلود، دلته د ولسواکۍ دویمې تجربې پوره یوه لسیزه دوام وکړ، دغه دوره چې له ۱۹۶۴ څخه تر ۱۹۷۳ ز کال پورې یې دوام وموند، په افغانستان کې د مشروطه شاهي یو ډول داسې نظام واکمن و چې د رښتیني جمهوریت پر لور یې اوږده لاره لنډه کړې وه.

دا ځکه په افغانستان کې هېڅکله زموږ ملي او مذهبي ارزښتونه او جوړښتونه د ولسواکۍ او جمهوریت پر وړاندې خنډ نه دي ګرځېدلي، بلکې دا د پردیو لاسوهنه، د بلواکو عناصرو واکمنۍ او په ټوله کې د سیکولارو روښانفکرانو ازاد خیاله، احساساتي او پر پردۍ لاسوهنې ولاړ ځانغوښتونکي او ورځچاري دریځونه، پریکړې او ګامونه وو چې تل یې د هر نوښت مخه نیولې، د افغان ملت ایډیالونه یې غلط کارولي او پر افغان ولس، تاریخ او هر څه یې بې رحمانه قمار وهلی، که نه، کابل له ډېر پخوا څخه د څو کلتوره نړیوال ښار بېلګه وه، دغه پلازمینه د زردښتیانو کور و، بودایانو پکې د خپل مذهب شهکارونه رسم کړل او د اسلام د رڼا، زغم او د وروړولۍ پیغام یې د هند تر لویې وچې ورساوه.

بل لور ته تردې پخوا هم افغانستان په خپل معاصر تاریخ کې جرګه چې له یوې دودیزې قبیلوي ماډل څخه پر یوې دودیزې سیاسي هغې اوښتې وه، د ولسي استازولۍ او په لویو پریکړو کې د ملت د ګډون استازی و، هغه چې د رول ځرنګوالی یې یې ډېر کله په یوه دودیزه ولسواکۍ کې د اغېزمنو او بانفوذه ولسي استازو له لوري د نظام له جوړښت او مشروعیته نیولې بیا په ملي کچه د سترو پرېکړو تر کولو مهم ځایګي لرل. د بېلګې په توګه، په ۱۷۴۷ ز کال کې د احمدشاه ابدالي د پاچاهۍ تایید جرګه، په ۱۹۱۵ ز کال کې د امیر حبیب الله خان له لوري په لومړۍ نړیواله جګړه کې د افغانستان د بې پرې والي د اعلان جرګه او په ۱۹۴۹ ز کال کې د (پښتونستان) په قضیه کې د افغانستان د دولت د سیاست تاییدولو جرګه.

**دوام لري...**

## په کابل کې د چین سفیر: د کرونا ویروس په اړه د افغانانو له همدردۍ مننه کوو

په افغانستان کې د چین لوی سفیر وانګ یو د کرونا ویروس په اړه د افغانانو له هر اړخیز ملاتړ او همدردۍ مننه وکړه. هغه تېره ورځ په کابل کې له رسنیو سره د خبرو پر مهال وویل، په چین کې د کرونا ویروس له خپرېدو وروسته د دې ناروغۍ له کبله د مړو شویو او پرې د اخته کسانو د شمېرو په اړه بېلابېل راپورونه خپرېږي، چې ډېری یې ناسم او له حقیقته لرې دي. ده ویلي چې تر اوسه پورې د کرونا ویروس له کبله نږدې ۵۰۰ کسان مړه شوي، ۲۶۵۶ کسان نوي پر دې ناروغۍ اخته شوي او د ډېرو نورو درملنه شوې ده.

د چین سفیر له افغان چارواکو په ځانګړې توګه له اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله، د بهرنیو چارو له سرپرست هارون چخانسوري، د عامې روغتیا وزارت له وزیر ډاکټر فېروزالدین فېرو، په چین کې له افغان سفیر، په چین کې له مېشتو افغان محصلینو او ټولو افغانانو څخه مننه وکړه، چې له دوی سره یې خپله خواخوږي ثرګنده کړې ده. وانګ یو وویل، چین په ټول توان هڅه کوي چې ژر دغه ویروس کابو کړي او نورو هېوادونو ته یې د خپرېدو مخنیوی وکړي. د نوموړي په خبره، د روغتیا نړیوال سازمان د چین له هڅو ملاتړ کوي او د کرونا ویروس د کنټرول په برخه کې یې د دوی هڅې ستایلې دي. نوموړي دغه راز وویل چې اوسمهال په ټول چین کې ۲۰۰ افغان محصلین



پر زده کړو بوخت دي، چې ۴۲ یې په ووهان ښار کې دي. وانګ یو په چین کې د افغان محصلینو د وضعیت په اړه وویل چې چین خپلو او نورو ټولو بهرنیو وګړو ته په یوه سترګه ګوري او د دوی د ښې روغتیا لپاره لا له وړاندې لاس پکار شوي دي. نوموړي په چین کې د افغان محصلینو په اړه یو ځل بیا ډاډ ورکړ چې وخت ناوخت یې پوښتنه او روغتیایي معاینات کېږي او که افغان حکومت وغواړي چې دغه محصلین افغانستان ته را ولېږدوي، دوی به د افغانستان له بهرنیو چارو وزارت سره په دې برخه کې مرسته وکړي. د چین سفیر وویل، افغانستان د چین ښه ګاونډی هېواد دی چې په هېڅ ډول شرایطو کې به یې له پامه ونه غورځوي. ده په افغانستان کې د چین د مرستو یادونه وکړه چې ښه بېلګه یې په کندهار کې میرویس روغتون او په کابل کې د جمهوریت روغتون دی. وانګ یو وویل، د نورو مرستو تر څنګ چې هر کال له افغانستان سره په روغتیایي برخه کې مرسته کوي، تېر کال سل تنه هغه ماشومان چې د زړه سوري پر ناروغۍ اخته وو، چین ته د درملنې په موخه ولېږل او له درملنې وروسته بېرته هېواد ته را ستانه کړل شول. نوموړي وویل چې هېواد به یې دغه ډول مرستې جاري وساتي او سږ کال به هم د سلو په شاوخوا کې هغه افغان ماشومان چې د زړه سوري پر ناروغۍ اخته دي، چین ته د درملنې لپاره واستوي.

# پر امریکایي ځواکونو خونړی برید؛

## په ننګرهار کې یوه بریدګر اتو امریکایي عسکرو ته مرګ ژوبله اړولې ده



په ننګرهار کې په یوه وسله وال برید کې افغان او امریکایي ځواکونو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. ویل کېږي چې یوه نظامي کس د خپل ټوپک خوله پر افغان او امریکایي ځواکونو ور اړولې ده او څو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې.
د امریکایي او افغان ځواکونو د مرګ ژوبلې د شمېر په اړه بېلابېل معلومات ورکړل شوي دي. دغه راز تر اوسه دا نه ده معلومه چې د برید اصلي انګیزه څه وه. داسې هم ویل کېږي چې مرګ ژوبله په اصل کې د افغان او امریکایي ځواکونو د خپلمنځي نښتې له امله رامنځ ته شوې ده، هغه څه چې افغان او امریکایي چارواکو رد کړي دي.
د ننګرهار په شېرزادو ولسوالۍ کې افغان او امریکایي ځواکونو د وسله والو طالبانو او داعش ضد عملیات پیل کړي وو. ورمه ورځ ناوخته امریکایي او افغان ځواکونو په ګډه غوښتل عملیات پلان کړي او پر همدې تړاو یې بحثونه کول. افغان سرچینو رسنیو ته ویلي چې د پلان جوړولو او خبرو پر مهال یوه نظامي خپل ماشیندار پر بهرنیو ځواکونو را اړولی دی او ډېرو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده.
د تلفاتو د شمېر په اړه د نظر اختلاف دی. ځینو سرچینو رسنیو ته ویلي چې په پېښه کې شپږ امریکایي عسکر وژل شوي دي. د اې بي ان اې په نوم یوه خبري اژانس ته سرچینو ویلي چې په پېښه کې شپږ امریکایي عسکر وژل شوي دي. دغه راز د ننګرهار د ولایتي شورا مرستیال محمد اجمل عمر وایي چې په دغه برید کې اووه امریکایي عسکر وژل شوي دي. د ده په خبره، یوه افغان سرتېري پر امریکایي پوځیانو ډزې کړې دي چې له امله یې اووه امریکایي عسکر وژل شوي دي او دغه سرتېری اجمل نومېده.
د ننګرهار والي شاه محمد میاخیل بیا وایي چې په دغه پېښه کې شپږ افغان کماندو او امریکایي عسکر وژل شوي دي. نوموړي په دې اړه تر دې ډېر معلومات نه دي ورکړي.
بهرنۍ رسنۍ بیا دغه برید خورا خطرناک بولي. واشنګټن پوسټ په یوه مطلب کې لیکلي وو، چې برید څو دقیقې دوام کړی دی، خو په څو دقیقو کې یې درنه مرګ ژوبله اړولې ده. یادې ورځپاڼې په سیمه کې له عیني شاهدانو سره خبرې کړې دي. یوه افغان پولیس ورته ویلي چې ډزې امریکایي عسکرو پیل کړې او یوازې څو دقیقې یې دوام وکړ، چې وروسته چورلکې راغلې او ټوله سیمه د امریکایي ځواکونو له لوري کلابنده شوه. تر سهاره پورې هېچا ته سیمې ته د تګ اجازه نه ورکول کېده، نو له همدې امله د اوښتې مرګ ژوبلې د کره شمېرې په اړه هم معلومات نشته.
نړیوالو رسنیو ویلي چې دا د کندهار تر برید وروسته چې په هغه کې د کندهار امنیه قومندان جنرال رازق ووژل شو، دویم خونړی برید دی. د سرچینې په خبره، دا په داخلي بریدونو کې د افغان او امریکایي ځواکونو تر ټولو درنه مرګ ژوبله ده. په افغانستان کې مېشتو امریکایي ځواکونو هم دغه برید تایید کړی دی، خو د مرګ ژوبلې په اړه یې معلومات نه دي ورکړي. د دغه ځواکونو له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي: «پر ځواکونو مو په ننګرهار کې مستقیم برید شوی دی او په اړه به یې نور معلومات وروسته خپاره کړو».
بلخوا ملي دفاع وزارت هم پر دغه برید غبرګون ښودلی دی. د دغه وزارت له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې برید د یوه کس له لوري تر سره شوی چې نظامي یونیفورم یې درلود. سرچینه کاږي چې د لوړپوړو امریکایي او افغان ځاکونو یو پلاوی سیمې ته تللی دی او پېښه به په هر اړخیزه توګه څېړي. ملي دفاع وزارت په پېښه کې د دوو کماندو سرتېرو د وژل کېدو او شپږو د ټپي کېدو خبره هم کړې ده.
د دغه ډول بریدونو له تر سره کېدو سره هممهاله دا اندېښنه هم ډېره شوې چې ښایي د افغان او امریکایي ځواکونو تر منځ مستقیمه همکاري پیکه شي، خو ملي دفاع وزارت وایي چې دا به د ترهګرۍ ضد پر ګډه مبارزه هېڅ راز منفي اغېز ونه کړي.

د بشري حقونو کمېسیون:

## د افغان معلولینو وضعیت د اندېښنې وړ دی



د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي چې په افغانستان کې د معلولینو وضعیت د اندېښنې وړ دی.
د دغه کمېسیون نوې موندنې ښیي چې په هېواد معلولین د روغتیایي، ښوونیزو، بې کارۍ او توپیري چلن سره مخ دي.
د دغه کمېسیون کمېشنرې بنفشې یعقوبي تېره ورځ په کابل کې د معلولینو د وضعیت په اړه د یو څېړنیز راپور د خپرولو پر مهال وویل چې د معلولینو دغه ستونزې د دې لامل شوې، چې دوی له ټولنیزو محدودیتونو سره مخ شي.
هغې زیاته کړې: «معلولیت لرونکي وګړي معمولاً له بېلابېلو ستونزو چې د هغې له ډلې د کورنۍ او ټولنې له لوري له ګډو ستونزو سره مخ دي، د کورنیو په کچه د سپکو سپورو ویل او همدارنګه په ټولنه کې نا باوري او د دوی نه منل له نورو مسایلو دي، دوی همدارنګه روغتیایي امکاناتو ته هم لاسرسی نه لري.»
هغې دغه راز ویلي چې دغه کمېسیون په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د معلولینو له ۹۷۹ ډلو سره د افغانستان په ۲۸ ولایتونو کې مرکې کړې دي او د دوی ستونزې یې پوښتلې دي.
د نوموړې په خبره، که څه هم حکومت معلولینو ته ځینې کارونه کړي، خو اړتیا ته په کتو یې د دوی ستونزې نه دي حل کړې.
د معلولینو د حقونو او امتیازاتو په اړه د نوي قانون تصویب او د دوی د مادي امتیازاتو پر وړاندې د تبعیض لرې کول، د ذهني معلولینو لپاره د ورتیاوو لوړولو او ملاتړ مرکزونو جوړول او د دوی د ماشومانو لپاره د زده کړو د زمینې برابرول په هېواد کې د معلولینو د وضیعت د ښه کېدو لپاره د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون له خوا مطرح شوي وړاندیزونه دي.
په ورته وخت کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ورکړل شویو شمېرو له مخې، اوسمهال په افغانستان کې د یو میلیون په شاوخوا کې معلولین اوسېږي.
له دې ټولو سره سره، د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت ویاند ضیاالحق فضلي ویلي، دوی د معلولینو د امتیازاتو او حقونو پر قانون باندې بیاکتنه کوي او د ستونزو د هوارې لپاره جدي هلې ځلې کوي.

حراست او ثبات شورا:

## د ټاکنو وروستۍ پایلې دې په قانوني او بې پرې توګه اعلان شي



د حراست او ثبات شورا له ټاکنیزو کمېسیونونو غوښتي چې د بې پرې والي اصولو ته په پام، باید د ټاکنو پایلې ژر اعلان کړي.
د دغې شورا ویاند مسعود ترشتوال تېره ورځ د یوې خبري ناستې پر مهال وویل، د ټاکنو پایلې باید ډېرې ژر او په پوره بې طرفۍ اعلان شي.
هغه زیاته کړې: «موږ له شکایتونو کمېسیون څخه غوښتنه کوو چې د قانون پر اساس او د عدالت اصل په پام کې نیولو سره خپله وروستۍ پرېکړه وکړي او له ښکېلو اړخونو څخه هم غواړو چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له لوري د قانون پر اساس چې کومه پرېکړه اعلانېږي، باید ورته غاړه کېږدي.»
دا په داسې حال کې ده چې ولسمشریزې ټاکنې د روان لمریز کال د تلې په شپږمه تر سره شوې، خو تر اوسه چې له دغو ټاکنو د نږدې پنځو میاشتو په تېرېدو، لا یې هم وروستۍ پایلې نه دي اعلان شوې.
په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات ازادي راډیو ته ویلي چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون تر اوسه ورته په رسمي توګه خپله پرېکړه نه ده سپارلې.
هغه ویلي: «د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون تر اوسه پورې خپلې پرېکړې موږ سره نه دي شریکې کړې، کله چې دا پرېکړې ورسېږي، کمېسیون پرې کار کوي، څو معلوم کړي چې کوم محلونه بیاشمېرنې ته اړتیا لري.»
دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د تېرې چهارشنبې په ورځ ډېرې پرېکړې د هغو درې سوو زرو جنجالي رایو په اړه وې چې د میزان په شپږمه کارول شوې وې.
د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون ویاندې زرمینې حقجو بیا ورمه ورځ ازادي راډیو ته ویلي چې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون به ډېر ژر خپله وروستۍ پرېکړه په رسمي ډول د ټاکنو خپلواک کمېسیون سره شریکه کړي.
په ورته وخت کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ اجرایوی رییس یوسف رشید بیا وایي، که وضعیت په همدې ډول دوام وکړي، دا به یوه میاشت نور وخت ونیسي او د دې ټول مسوولیت به د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته متوجه وي.

# اردوغان: د ټرمپ (د پېړۍ معامله) به هېڅکله هم پر حقیقت بدله نه شي



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان خبرداری ورکړی چې د اسراییلو او فلسطین په اړه به د ټرمپ (د پېړۍ معامله) پرېکړه هېڅکله هم پر حقیقت بدله نه شي.
هغه ویلي چې هېواد به یې هېچا ته د دې اجازه ورنه کړي چې د یادې پرېکړې په نوم په سیمه کې خپلسري اقدامات وکړي او په دې بهانه نورې سیمې تر خپل واک لاندې راولي.
اردوغان خبرداری ورکړی چې د اسراییلو د پلازمېنې په توګه به د بیت المقدس ټاکل کېدل یو خوب وي او هېچا ته به د دغه خوب د رښتیا کېدو اجازه ورنه کړي.
نوموړي زیاته کړې: «د ټرمپ دغه پرېکړه په هېڅ صورت د منلو نه ده، په دې طرحه کې په ظالمانه او خپلسري ډول د فلسطین خاوره ښبله شوې او بیت المقدس چې ټولو مسلمانانو ته ځانګړې ارزښت لري، اسراییلو ته ورکړل شوی دی، په سیمه کې د امریکا دغه ډول خپلسري به ناوړه پایلې ولري.»
د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان دغه راز پر ځینو عربي هېوادونو او په ځانګړې توګه سعودي عربستان تونده نیوکې کړې چې په منځني ختیځ کې پر وروستیو بدلونونو یې چوپتیا غوره کړې ده.
د آناتولي خبري آژانس د راپور له مخې، اردوغان د دغه هېواد د عدالت او پراختیا ګوند په غونډه کې ویلي، چې بیت المقدس د ترکیې لپاره سره کرښه ده.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د اسراییلو او فلسطین تر منځ د کړکېچ د هوارې په موخه د (د پېړۍ معاملې) په نوم خپله طرحه اعلان کړه. په دې طرحه کې د بیت المقدس په ګډون، ډېری سیمې د اسراییلو د خاورې په توګه پر رسمیت پېژندل شوې دي. د ټرمپ دغې طرحې پراخ نړیوال غبرګونونه راپارولي او هغه یې یو اړخیز او غیر عادلانه اقدام بللی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### د ۲۴ قراطه سرو زرو ژوند کول




• **بدې پرېکړې نښې پرېږدي**

خلک چې بده پرېکړه وکړي، نو که د دوی ورته پام هم نه وي، د هغې بدې پرېکړې یو اغېز پرې پاتې کېږي. زما مېرمن (مارګریټ) وایي چې نیا به یې یوه کیسه ورته کوله، کیسه د داسې یوه پلار وه چې غوښتل یې خپل بچی د بدو پرېکړو پر پایلو پوه کړي. هر وخت به چې هلک ناسمه پرېکړه وکړه، پلار به یې ورته وویل چې په تخته یو مېخ ټک وهه. په کومه ورځ به یې چې سمه پرېکړه وکړه، ورته وبه یې ویل چې له تختې یو میخ وباسه. بیا داسې وخت راغی چې په تخته کې نور د مېخ ټک وهلو ځای نه و، هلک ګوري چې تخته ټوله سورۍ سورۍ شوې ده.

• **څومره چې خلک ډېر دخیل وي، هومره به د منلو فشار ډېر وي**

په یوازې ځان اخلاقي پرېکړې کول خپل فشار لري، ځکه ځینې خلک ښایي پر دې باور وي چې شخصي بې غوري یې ښایي نورو خلکو ته ښکاره نه شي. په عمومي پرېکړو کې بیا نور خلک دخیل وي، په دې خاطر د منلو یا موافقت یو بل ډول فشار پکې وي. خو که فشار هر څومره ډېر وي، تاسو به نورو خلکو ته دا اجازه نه ورکوئ چې فشار درباندې راوړي او غیراخلاقي پرېکړې درباندې وکړي.

• **نه پرېکړه هم پرېکړه ده**

د اخلاقي پرېکړو په اړه د ځینو خلکو دریځ دا دی چې هېڅ پرېکړه نه کوي. سره له دې چې دا پرېکړه نه کول هم یوه پرېکړه ده؛ خو زرګونه خلک داسې دي چې هره ورځ ګوري کارکوونکي یې درغلي او بداخلاقي کوي؛ خو دوی هېڅ هم نه وایي او همداسې ګوزاره ورسره کوي.

که اخلاقي ژوند کوئ، نو د سختو پرېکړو پر وخت باید خپل اصول درسره وي. ایډوار ار لیمن ویلي:((اصول او په تېره بیا اخلاقي اصول زر بدلېدونکي نه دي. اخلاقي اصول د لارې نقشه ده، دا بل ته ورته وي او سم به وي او دا په کاروبار کې هم دومره مهم دي لکه په ټولګي کې چې دي.))

۳. **خپلې پرېکړې د ربښتینولۍ د همدې لارښود پر اساس مدیریت کړئ!**

کیرول بلېک د لایف ټایم تفریحي خدمتونو شرکت مشره او اجراییوي رییسه ده، دا شرکت د لایف ټایم په نامه یو ټلویزیوني چینل هم لري. دې باید د(۲۰۰۲ز) په مني کې یوه سخته پرېکړه کړې وای. شرکت وویل چې له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي یو عمومي کمپاین به کوي. د شرکت ټول اصلي پروګرامونه د دې کمپاین ملاتړ ته ځانګړي شوي وو. په فیبرورۍ کې درجه بندي ټیټه شوه، کیرول هم پوهېده چې دا ټیټه درجه به زیان ورته رسوي. نو پرېکړه یې باید کړې وای چې د شبکې خپروني بدلې کړي او که د اداري کړې ژمنه وپالي. خو هغه دوه زړې نه شوه. ویل یې:((ما خپل لوړپوړي مدیر ته وویل چې موږ به خپله کړې ژمنه پوره کوو او په درجه بندۍ کې به حتما زیان وینو.)) خو جالبه دا وه چې همغه فیبروري لایف ټایم ټلویزیوني چینل ته ډېره زیاته ښه وه. بلیک وویل:((دا داسې ده لکه خپلې نیا چې راته ویلي وو، که سم کار مو وکړ، نو انعام به یې حتما وینئ.)) ۳

خبره چې د اخلاقو شي، نو ځینې وخت لویې پرېکړې کول اسانه وي. زیاتره خلک چې مړی کوي، پرېکړه یې ورته دومره سخته نه وي. لړ خلک په موټر پټولو یا د نورو د کورونو په وهلو کې دوه زړي کېږي. خو د ځینو شیانو مدیریت بیا سخت وي، یوه لرغونې وینا ده چې«خدای په جزیاتو کې دی» تاسو دا هم ویلی شئ چې اخلاق په جزیاتو کې دي.

ما چې پر دې کتاب کار پیلاوه، نو له خپل ملګري کین پلانچارډ سره وغږېدم، هغه له نورمن وینسټ پیل سره په ګډه یو کتاب لیکلی او نوم یې «د اخلاقي مدیریت ځواک» دی. دوی په دې کتاب کې د اخلاقي پرېکړو لپاره درې اساسي پوښتنې مطرح کړې دي:

۱) قانوني ده؟
۲) متوازنه ده؟
۳) زما احساس به ورسره څنګه وي؟

زه کېن ته ډېر زیات درناوی لرم. هغه په دې اړه یوه کیسه راته کړې وه چې د زرین قانون پر اساس پرېکړې څومره حساسې وي:

د کین د شرکت یوه کارکوونکي ورته وویل چې:((زه ستا د الوتکو له کرایې سره ستونزه لرم.)) ده ورته وویل:((څه ستونزه لرې؟)) وې ویل:((تاسو تېره میاشت په شیکاګو کې له یوه پېرودونکي سره خبرې وکړې؛ خو تیار هملته د یوه بل کار لپاره ورغلي وئ. له تا سره یې چې تړون وکړ، د الوتکې کرایه یې درته ومنله، زه اوس دا پیسې په هغه بل کس څنګه حساب کړم؟)) تاسو به په دې حالت کې څه کوئ؟ تاسو به له هغه پېرودونکي کرایه غواړئ، که یوازې لګښت به پرې حسابوئ؟ کین له خپل پېرودونکي سره هغه چلن وکړ، چې له ځان سره یې له نورو تمه درلوده. په دواړو پېرودونکو یې نیمه نیمه کرایه حساب کړه.

که غواړئ چې باور درباندې وشي، نو باید د اټکل وړ اوسئ. تاسو چې ذ خپل ژوند مدیریت او ټولې پرېکړې د زرین قانون پر اساس کوئ، نو په خپل ژوند کې یو اخلاقي اټکل رامنځته کوئ. که خلک پوه شي چې تاسو تل سم کارونه کوئ، نو باور به یې درباندې پیدا شي.

تاسو چې د خپل ژوند مدیریت او ټولې پرېکړې د زرین قانون پر اساس کوئ، نو په خپل ژوند کې یو اخلاقي اټکل رامنځته کوئ.

**دوام لري...**

# منګولیا

حشمت الله نوري

منګولیا په ختیځه آسیا کې د چین او روسیې تر منځ د شمالي عرض البلدونو د ۴۲ او ۵۲ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۱۲۰ او ۸۵ درجو تر مینځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۶۰۹۰۹ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه په نړۍ کې اوولسم هېواد دی.

د منګولیا شمال ته روسیه، جنوب ته سایبریا، ختیځ او لوېدیځ ته یې د چین ولسي جمهوریت پروت دی.

دغه هېواد په ټوله نړۍ کې د خپل مساحت په پرتله لږ اوسېدونکي لري، ځګه چې له یوې خوا د دغه هېواد ختیځې- منځنۍ او جنوب- لوېدیځې برخې په غرونو پوښلې دي او له بلې خوا یې د ګوبي او کوبدو په شان سوزنده ډاګونو جنوب- ختیځې سیمې نیولې دي.

منګولیا یوازې د قبیلوي او لهجوي ځانګړتیاوو له امله د چین له منګولیا سره توپیر لري، په داسې حال کې چې نورې جغرافیایي، فزیکي او ژبنۍ ځانګړتیاوې یې سره یو شان دي.

د دغه هېواد پلازمېنه اولبناتور ښار دی او ټولټال څه باندې درې میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې درې کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۷۰ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې ۳۰ سلنه نور یې په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلود حق لري.

د منګولیا لومړی اساسي قانون د ۱۹۲۴ ز کال د نومبر په ۲۴مه د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد د قانون له مخې جوړ شوی و. دغه قانون لومړی په ۱۹۴۰مه او بیا د ۱۹۶۰ ز کال د جون په ۶مه نوی شوی دی. د دغه هېواد اوسنی اساسي قانون د ۱۹۹۲ ز کال د فبروري په ۱۲مه نافذ شوی دی. د منګولیا اوسنی ولسمشر خالتمان او لومړی وزیر یې جارتالو ارتینبیت دی. په دغه هېواد کې د ولسمشر کاندیدان د ګوندونو له خوا د خلکو ستر مجلس ته پېژندل کېږي او د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي او پاتې دې نه وي چې هغه څوک چې ګوند یا ائتلاف یې اکثریت ولري، د خلکو د ستر مجلس له خوا د لومړي وزیر په توګه غوره کېږي. د منګولیا د کابینې وزیران د خلکو د ستر مجلس له خوا د ولسمشر په مشوره ګومارل کېږي.

د دغه هېواد د پارلمان ۷۶ غړي د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په منګولیا کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د منګولیا حقوقي نظام د روسیې، چین او ترکیې پر قوانینو ولاړ دی. د دغه هېواد لوړ قضایي ارګان ستره محکمه د تمیز محکمې په شان کار کوي. منګولیا له سترې محکمې وروسته ولایتي، ښاري او سیمه ییزې محکمې او د اساسي قانون د تعبیر او تفسیر محکمه لري. د محاکمو قاضیان د منګولیا د محکمو د عمومي ټولنې پر وړاندې د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي.

د منګولیا د خلکو انقلابي ګوند، د منګولیا نوی ټولنپال ولسواک ګوند او د منګولیا جمهوري غوښتونکی ګوند د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.

د دغه هېواد اقتصاد له ۱۹۴۸ تر ۱۹۹۰ ز کلونو تر مینځ د ټولنیزې اقتصادي پرمختیا د هغو پنځو کلنو پلانونو په مرسته چې د شوروي اتحاد، چین او نورو سوسیالیستي هېوادونو په مرسته تطبیق کېدل، ډېر ګړندی پرمختګ وکړ او له یو کرنیز وروسته پاتې هېواد څخه پر پرمختلونکي هېواد بدلیده. کله چې شوروي اتحاد ړنګ شو، ټولې هغه مرستې منګولیا ته بندې شوې چې د منګولیا درېیمه برخه ناخالص



کورني تولید یې برابراوه. دغه هېواد ته د شوروي اتحاد د مرستو بندېدلو، دغه هېواد د اقتصاد له سختو ستونزو سره مخ کړ. د بهرنیو اسعارو زېرمې لږ شوې، خلکو د اړتیا وړ توکو، وارداتو او اسعارو ته اړتیا درلوده، صنعتي تولیدات کم شول او په ځینو خوراکي توکو لکه بورې، چای، غوښې او اوړو باندې ځیره ولګیده. په دې وخت کې امریکا، جاپان او اروپایي ټولنې له منګولیا سره د غنمو او پیسو لږ مرستې وکړې او دغه هېواد یې د ډېرو سختو شرایطو پر وړاندې پر پښو ودراوه.

له دې وروسته د منګولیا نویو حکومتونو د ازاد بازار د اقتصاد تګلاره غوره کړه، په خپلو قوانینو کې یې بدلونونه راوستل او د آزاد مارکیټ اقتصاد د لګښتونو کمولو د بیو آسانه کنټرول او د کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ پراختیا ته یې غېږه پرانیستله. د دغه هېواد اقتصاد په دغه هېواد کې د ناوړه اقلیم، یو له بل څخه د خلکو د لرې لرې استوګنې او زراعتي ځمکو له لرې موقعیت څخه ځورېږي. د منګولیا عنعنوي اقتصاد پر کرنه او د څارویو پر روزنه ولاړ دی، په تېرو کلونو کې ډېرې طبیعي زېرمې د شوروي اتحاد په مرسته ویشل شوې وې، هغه وخت د شوروي مرستو د دغه هېواد د ناخالص کورني تولید ۳۲ سلنه جوړوله. د ډېرو د سکرو، مسو او سرو زرو ایستل او پروسس د منګولیا ستر صنعتي تولیدات بلل کېږي. په ۱۹۹۶ ز کال کې د منګولیا اقتصاد د طبیعي ناوړه پېښو او په نړیوال مارکیټ کې د مسو د بیو د ټیټوالي له امله زیانمن شو.

د دغه هېواد ډېر عواید د دولت پر عادي لګښتونو خرڅیږي او لږ کورنیو او بهرنیو پانګوالو د دغه هېواد صنایعو او کانونو په برخه کې پانګونه کړې ده. په ۱۹۹۹ ز کال کې روسیې منګولیا ته د خپلو تېلو او نفتي محصولاتو په صادرولو لنډمهاله بندیز ولګاوه. دغه بندیز د منګولیا د اقتصاد ستونزې نورې هم ډېرې کړې. په ۲۰۰۰ ز کال کې وچکالۍ د منګولیا کرنې ته دروند زیان ورساوه او ډېر څاروي مړه شول. په ۲۰۰۳ ز کال کې د منګولیا اقتصاد د دولت د مثبتو تګلارو، د سرو زرو د ایستلو او په نړۍ کې د مسو د بیو د زیاتېدو له امله ۶ سلنه وده وکړه.

د ۲۰۰۴ ز کال او ۲۰۰۸ ز کال تر منځ د منګولیا اقتصادي وده په نړۍ کې د مسو د بیې د جګوالي او د سرو زرو د نویو زېرمو د موندلو له امله، هر کال ۹ سلنه وه. په ۲۰۰۹ ز کال کې د بیو لوړوالي یا انفلاسیون ۳۰ سلنه ته ورسید. دا په تېرو لسو کلونو کې د منګولیا د انفلاسیون تر ټولو لوړه سلنه وه. د دې انفلاسیون علت نړیوال مالي بحران و. د انفلاسیون د مخنیوي لپاره دولت خپل لګښتونه لږ کړل او د تولیدي مالونو بیه یې ټیټه کړه.

دغه هېواد خپل ۹۵ سلنه تېل او برېښنا له روسیې څخه اخلي او نیمایي نوره سوداګري یې له چین سره ده. چین د منګولیا ۸۰ سلنه صادراتي توکي اخلي، په بهر کې د منګولیایي ځوانانو د کار عواید د دغه هېواد په ملي عوایدو کې د پام وړ برخه لري. دغه هېواد د نړۍ د سوداګرۍ ټولنې غړیتوب تر لاسه کړی او هڅه کوي چې په سیمه ییزه سوداګرۍ کې خپله ونډه ډېره کړي.

برېښنا، د ډېرو سکاره، مس، د سرو زرو ایستل او پروسس، تېل، ساختماني توکي، سیمنټ، د غوښې او نورو خوراکي توکو پروسس، بوره، چیني لوښي، کیمیاوي توکي، ګوګړ او لاسي صنعت د دغه هېواد مهم صنعتي توکي دي.

د دغه هېواد یو سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، پاتې ۸۰ سلنه یې څرځایونو او پاتې نوره یې ځنګلونو، غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده.

د منګولیا ۳۵ سلنه خلک د کرنې او مالدارۍ پر چارو بوخت دي او د دغه هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

غنم، وربشې، کچالو، واښه، چغندر، سابه، غوښه، لبنیات او هګۍ د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کېږي.

غټ تجارتي شریکان یې روسیه، چین، جاپان، جنوبي کوریا، امریکا او عربي هېوادونه دي.

دغه هېواد له ۱۰۰ ډېرې تجارتي بېړۍ او ۴۶ هوایي ډګرونه لري چې ۱۵ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د منګولیا د ټلیفون کوډ ۰۰۹۷۶ او د انټرنېټ کوډ یې MN دی، چې ټولټال یې یو میلیون کسان ورته لاسرسی لري.

د هغه قانون له مخې چې په ۲۰۰۵ ز کال کې تصویب شو، د منګولیا دولتي راډیو- ټلوېزیون پر عامه شبکه بدل شول. اوس په دغه هېواد کې خصوصي راډیوګانې او ټلوېزیونونه هم فعالیت کوي.

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا یو پرمختلونکی هېواد بلل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي. په منګولیا کې زده کړه د ۷- ۱۵ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

مغل د ختیځې آسیا یو مهم قوم دی، چې په بېلابېلو طایفو او ژبو وېشل کېږي. دې سیمې ته کوچیدلو خلکو کوچیاني ژوند درلود او له خپلو سترو رمو سره به له یوې شنې سیمې څخه بلې سیمې ته کوچیدل. په مغلو کې دا دود و چې تر ټولو ځواکمنې طایفې به پر شاوخوا سیمو او خلکو واکمني کوله. لښکر به یې جوړاوه او جګړې به یې کولې. مورخین لیکي چې د شیونګ نا یا هون قومونه له میلاد څخه کابو څلور سوه کاله مخکې د سلنګا په دره کې چې سایبریا د آسیا له زړه سره نښلوي، مېشت شوي دي.

ړګتا د ۱۹۹۰ ز کال په جنوري کې د منګولیا ولسواک ګوند جوړ شو او د هېواد د ستر مجلس په اساسي قانون کې بدلونونه تصویب کړل. په ۱۹۹۱ ز کال کې لومړي وزیر داشیون خپله اقتصادي تګلاره اعلان کړه او هڅه یې وکړه چې بهرني پانګوال خپل هېواد ته راوبولي. په ۱۹۹۲ ز کال کې بیا د منګولیا په اساسي قانون کې بدلونونه راغلل او روسي عسکر له دغه هېواد څخه په بشپړه توګه ووتل.

په ۱۹۲۶ ز کال کې په کابل او اولنباتور کې د افغانستان او منګولیا تر منځ د نااستوګنو سیاسي اړیکو د جوړېدو اعلامیه خپره شوه او په بیجینګ کې د افغانستان سفیر شعیب مسکین یار ته دنده ورکړل شوه چې په اولنباتور کې د افغانستان د نااستوګن سفارت دنده پر غاړه واخلي.

له افغانستان څخه تر منګولیا پوره د هوا له لارې فاصله ۳۳۴۸ کیلومتره او همدا راز د کابل او اولنباتور ښارونو تر مینځ د وخت توپیر ۳:۳۰ ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۰ |
| € | ۸٤,۳۰ |
| Rp. | ٤۹۲ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۸,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د مالي مسايلو کنټرول مو د سټريس له کموالي سره مرسته کوي

ژباړه: حميدالله حميدي



له لګښت مخکې سپما وکړئ. د سبا ورځې غم هم بايد در سره وي. هغو کسانو چې زما (د بريا ۷۰ رازونه) کتاب لوستی دی، د دې راز په اړه کېدای شي زما له سپارښتنو سره بلد وي. وروسته له هغه چې خپلې ټولې نغدې پيسې مو خرڅ کړې، بيا نو د سپما په اړه فکر مه کوئ، ځکه که تاسو وغواړی يا ونه غواړی، له ماتې سره مخ کېږی. دا زده کړئ، مخکې له دې چې لګښت وکړی، يوه اندازه پيسې مو سپما کړئ. زه پوهېږم کله چې د کور مصارف ډېر وي، بيا په مياشتنې ډول د برېښنا او يا نور بېلونه درته راځي، دغه وخت د پيسو سپمول يو څه سختېږي؛ خو تاسو بايد زده کړئ چې له دې هر څه سره سره دغه کار وکړئ. (سپما د عوايدو هغې برخې ته وايي چې نن يې نه لګوو او د سبا يا بلې ورځې د لګولو او کارو بار لپاره يې ساتو. سپما يوازې د نغدو پيسو ساتلو ته هم نه وايي، هر هغه څه چې نن يې وساتی، سبا ترې ګټه واخلئ او ژوند مو مخ ته پرې بوځئ، اړتيا مو پوره کړئ او د بل له احتياجه مو ځان خلاص کړئ، دا هرڅه سپما بلل کېږي. مور او تاسو چې کله د سپما خبره اورو، لومړنی شی مو چې ذهن ته راځي هغه بانک دی. موږ فکر کوو چې سپما ياني په بانک کې د نغدو پيسو ساتل؛ خو سپما يا Saving په اصل کې نه مصرف شوي عوايد دي، هغه که په هر ډول وي او هر چېرته يې وساتی.
سپما ياني همدا نن په ورځني ژوند کې د ډېر او بې ځايه لګښت مخه نيول. هڅه وکړئ چې د کورنۍ غړي مو د سپما له ګټو خبر کړئ او د سپما کولو لارې چارې ورته په ګوته کړئ. د سپما کچه ستاسو د عوايدو په کچې پورې اړه نه لري، کولی شی خپله ورته يوه مناسبه اندازه وټاکئ. د سپما ګټه يوازې تاسو ته نه، بلکې کورنۍ، ټولنې او ان هېواد ته رسېږي. کولی شی سپما شوې پيسې چاته قرض الحسنه ورکړئ او اړتيا يې پوره کړی، پانګونه پرې وکړئ او ډېر نور کسان در سره پر دنده وګومارئ، په دې کار سره به مو هم ځان ته ګټه رسولې وي او هم به مو د خلکو زړونه لاس ته راوړي وي.
سپما يوه له هغو موضوعاتو ده چې خبرې کول يې په اړه اسانه دي، خو تر سره کول يې بيا ډېر سخت دي. موږ ټول په دې پوهېږو چې سپما کول ډېر ښه او عاقلانه کار دی، خو ټول يې بيا په تر سره کولو کې ستونزې لرو او نن په سبا يې کوو. که فکر وکړو سپما له لګښته ډېره ګټه لري، خو يو څه سر خوږی هم لري. هغه کسان چې په مهارت سره خپلې پيسې سپما کوي، په دې ښه پوهېږي چې څه ډول خپلې پيسې مصرف کړي، خو په دې هم بايد ځان پوه کړي چې څه ډول کولی شي خپل عوايد زيات کړي.
دلته درته ځينې هغه لارې چارې په ګوته کوو چې سپما کول زده کړئ او ورسره خپل عوايد زيات کړئ.

**سپما کول خپل مسووليت وګڼئ**

د دې لپاره چې پوه شی څه ډول سپما وکړی، په هماغه لومړي سر کې خپل ټول عوايد مه لګوئ. هره مياشت د خپلې تنخوا يوه برخه مخکې له دې چې له لاسه مو ووځي، سپما کړئ. که څو ځله دغه کار تر سره کړی، عادت او مسووليت مو ګرځي. کولی شی پاتې پيسې د خپل ورځني ژوند د پر مخ بېولو لپاره د مهالوېش له مخې مصرف کړئ. د دې کار لپاره د خپلې اداري له مالي برخې او يا هم له اړوند بانک سره خبرې وکړئ چې په اتومات ډول ستاسو په خوښه يوه اندازه پيسې ستاسو د سپما يا تقاعد حساب ته ولېږدوي. که مو کارو بار ازاد وي او يا هم مياشتني حقوق په نغدي ډول تر لاسه کوی، بيا نو ځان داسې اموخته کړی چې له هر څه وړاندې ټاکلې اندازه پيسې خپل د سپما اکونټ ته ور اضافه کړئ. په دې کار ځان عادت کړئ او مسووليت يې وګڼئ.

**د سپما لپاره مناسبې موخې وټاکئ**

که د سپما لپاره مناسبه موخه ولری، نو سپما کول درته اسانه کېږي. هڅه وکړئ چې داسې موخې درته وټاکئ چې ورته ورسېدی شی، ځکه خپله موخه ټاکل انګېزه هم درته پيدا کوي. د بېلګې په توګه، د موټر يا کور اخيستل او يا هم د تقاعد په دوره کې د يوه ښه او مناسب ژوند درلودل. دغه څه در سره مرسته کوي چې د سپما لپاره مو هوډ پياوړی شي.

**ناهيلي کېږئ مه**

کله چې په سپما کې له ستونزو سره مخ کېږی، په ډېرې اسانۍ کېدای شي له دې کاره لاس واخلئ او هغو موخو ته رسېدل درته سخت ښکاره شي چې د ځان لپاره مو ټاکلې دي. مهمه نه ده چې تاسو د څومره پيسو په سپما کولو پيل کوی، خو سپما هر وخت ممکنه ده. څومره ژر هم چې دغه کار پيل کړی، هومره ژر به مالي امنيت ته ورسېږی. که تاسو غواړی په راتلونکي کې د يوه کور څښتن شی او په دې برخه کې له ستونزو سره مخ وی، لومړی د خپل لګښت له لېست څخه غير ضروري توکي حذف کړئ. سمه ده چې له موټر پرته ژوند کول ستونزمن دي، خو که خپل اوسنی موټر و پلوری، په ډېرې اسانۍ سره له ښاري موټرو څخه په ګټه اخيستلو اموخته او ورسره عادي کېږی. په دې کار سره به تاسو د خپلې موخې پر لور يو ګام ور نږدې شوي وی.

**د اوسني کرايي کور په پرتله يو ارزانه کور کرايه کړئ**

د ډېری کسانو لپاره د کور کرايه تر بل هر لګښت زياته او سخت وي. خو که په همدې برخه کې هم يو څه صرفه وکړئ، کېدای شي په مياشتني ډول مو د سپما کچه ډېره لوړه شي او په راتلونکي کې د خپل کور څښتنان شی. سمه ده چې له يوه ځای څخه بل ځای ته کډه وړل هم سخت او ګران پرې وځي، خو ډېر کله ګټه په تاوان کېږي.

**د برېښنا لګښت مو را کم کړئ**

تاسو به ليدلي وي چې ډېری کسان هره مياشت بې له دې چې پوښتنه وکړي او يا يې پر کمولو فکر وکړي، يوه زياته اندازه پيسې د برېښنا د لګښت له کبله پرېکوي. خو دا ډېره اسانه او د دوی په واک کې خبره ده چې د خپلې برېښنا مياشتنۍ کارونه راکمه کړي، سپما وکړي څو يې بېل کم راشي. موږ ډېر کله ځينې کوچنې لګښتونه بابېزه ګڼو، خو که په مياشتني ډول همدا کوچني کوچني لګښتونه را ټول کړو ډېرې زياتې پيسې کېږي، چې که سپما شي، موخې ته رسېدل درته اسانه کېږي. کله چې له کوره بهر وی، د کوټې ګروپونه، بايلر او نور غير ضروري شيان له برېښنا وباسئ. هېڅ داسې دليل نشته چې په کور کې ستاسو د نشتون په صورت کې بايد دغه شيان روښانه وي او بې ځايه برېښنا مصرف کړی. له سختې اړتيا پرته پکه مه روښانه کوئ، د کوټې کړکۍ مو خلاصې کړئ او د دې پر ځای چې ټوله شپه درته برېښنايي بخارۍ چالانه کړی، ډېرې کمپلې در باندې هوارې کړئ. بې زحمته راحت نشته، که تاسو په راتلونکي کې د خپل کور خوبونه وينی، نو د رښتيا کولو لپاره يې بايد چې يو څه قرباني ورکړئ. (سپما کول په دې مانا نه دي چې تاسو بايد سخت او لاس تنګی ژوند تېر کړی، سپما ياني د بې ځايه او بې مورده لګښتونو مخنيوی، څو په راتلونکي کې د بل له احتياجه خلاص او خپل ژوند مخ ته يوسی او د هرې ناڅاپي پېښې پر وړاندې په ډاډه زړه ودرېږی.) ژباړن
د ټولو شيان تر اخيستو وروسته پيسې مه سپما کوئ، بلکې اول سپما وکړئ او وروسته چې کومې پيسې در سره پاتې شوې، پر هغه باندې اړين توکي واخلئ. شتمن کسان اول سپما او وروسته لګښت کوي، خو بايلونکي او ماتې خوړلي کسان اول لګښت او وروسته سپما کوي. زما سپارښتنه تاسو ته دا ده کله چې تنخوا اخلی، لطفاً يو اندازه يې سپما کوئ. زه تل خپلو ملګرو او دوستانو ته وايم چې د خپلې تنخوا لس سلنه سپما کړي، ځکه که پنځه کاله وروسته خپلې سپما کړې پيسې وګوري، خوله به يې له خوښۍ خلاصه پاتې شي.
ما مې يوه ملګرې ته همداسې مشوره ورکړې وه. هی دربغی هغه زما په خوله کړې وای. يوه مياشت وروسته يې راته زنګ وکړ، ويل يې: له مالي ستونزو سره مخ دی او يو څه پيسو ته اړتيا لري. ما پوښتنه ترې وکړه، څه مې چې درته ويلي وو، هغه د علمي کړي دي او پيسې د سمپا کړې دي که نه؟ د هغه ځواب نه و. هغه راته وويل، داسې حالت ته رسېدلی چې همدا پرون يې د کور ځينې وسايل خرڅ کړل او خپل لاس يې پرې ازاد کړ. ما نو هېڅ مرسته نه شوای ور سره کولی، ځکه ده له هماغه لومړۍ ورځې تېروتنه کړې وه. خو وعده يې را سره وکړه چې سر له راتلونکې مياشتې به زما سپارښتنه عملي کوي.
اجازه راکړئ يو څه درته توضيح کړم. فکر وکړئ تاسو د مياشتې لس زره افغانۍمعاش لری او د مياشتې د خپلې تنخوا لس سلنه سپما کوئ چې زر افغانۍ کېږي. په دې سره نو تاسو ۹ زره افغانۍ لری چې د کور لپاره يې خرڅ کړی. د کال په اخر کې به تاسو ۱۲ زره افغانۍ سپما کړې وي. که تاسو د پنځو کلونو لپاره همداسې وکړئ، ٦۰ زره افغانۍ او لس کاله وروسته به ۱۲۰۰۰۰زره افغانۍ ولری. البته دا يوه بېلګه وه. کېدای شي تاسو په مياشتني ډول له دې ډېرې پيسې وګټئ.
تاسو کولای شی پر سپما شويو پيسو باندې د ځان لپاره يو کارو بار پيل کړی. د دې کار لپاره تاسو يو څه صبر او د دې کار ادامې ته اړتيا لری. تاسو کولای شی د خپلې تنخوا له لس سلنې يوه زياته برخه سپما کړئ. زه يو کس پېژنم چې هغه د خپلې مياشتنۍ تنخوا ۲۵ سلنه سپما کوله. له اوو کلونو وروسته وتوانېد چې د ځان لپاره ډېر ښه او لوی کارو بار پيل کړي.
تاسو ولې په مالي برخه کې له همدې اصل څخه ګټه نه اخلی؟ په دې کې د بايللو هېڅ شی نشته. دا سپما شوې پيسې هم ستاسو خپلې دي. تاسو کولای شی د سپما شويو پيسو لپاره يو ځانګړی بانکي اکونټ جوړکړئ او يا يې په خپل کور کې په يوه مناسب ځای کې وساتئ. زموږ ډېريو په کوچنيوالي کې دخلک درلود او هغه پيسې چې کاکا، ماما، عمه، تورۍ او نورو به راکولې، په (دخلک) کې به مو ساتلې. هڅه وکړئ چې اوس بيا هماغه دورې ته ور وګرځئ، ځکه که سپما کول کومه تېروتنه وای، ما يې هېڅکله درته سپارښتنه نه کوله. زه د ويل راجرز له هغو جملو سره چې د سپما په اړه يې کړې دي، ډېره مينه لرم او ډېر خوند راکوي. هغه ويلي: «د خپلو پيسو د دوه برابره کولو لپاره يوه تر ټوله ښه لار دا ده چې پيسې مو دوه ځايه کړئ او يوه برخه يې په جېب کې در سره کېږدئ. که تاسو نن سپما ونه کړئ او ټولې پيسې مو د نويو توکو په پېرلو ورکړئ، نو کېدای شي سبا له يوه داسې حالت سره مخ شی چې په کور کې شته شيان مو خرڅ کړی او لاس مو پرې ازاد کړئ.
دا تنخوا نه ده چې شتمن کوي مو، بلکې د پيسو د لګښت قانون دی چې ستاسو د شتمن کېدو لامل کېږي. نو چې داسې ده، کوچنيو کوچنيو لګښتونو ته هم بايد پام وکړئ، ځکه درياب له څاڅکو جوړېږي.
مالي خوښي په دې کې نه ده چې تاسو بايد د هر څه درلودونکي اوسئ، بلکې د دې ټکي زده کول دي، څه چې لری، تر هغې په لږو ګزاره وکړای شی څو وکولای شی تل يو څه اندازه سپما وکړی. دا کار تر هغه وخت پورې نه شي کېدای او امکان نه لري، څو پورې چې تاسو دغه ټکی زده نه کړی، قرضداري هر وخت په دې مانا نه ده چې تاسو پيسې نه لری، بلکې په دې مانا ده چې تاسو د پيسو د خرڅ کولو لپاره پروګرام نه لری.
سوزاورمان وايي: «که د دندې له لاسه ورکولو وېرېږی او له هغه وروسته د کوم کارو بار د پيل امکان هم نه وي، نو ښه ده چې په خپل جېب يا اکونټ کې د کور د اتو مياشتو د لګښت په اندازه سمپا شوې پيسې ولرئ.» تاسو بايد د راتلونکې په اړه هم فکر وکړئ او هر څه مو يوازې په نن پورې محدود نه وي. نو چې داسې ده، بايد دا زده کړئ چې څه ډول لګښت وکړی او څنګه سپما وکړی. کله چې پر دې کار بريالي شوی، بيا پوهېږئ چې له لګښته ډکې يوې تفريح څخه مو يوه مناسبه راتلونکې مهمه ده. دا تاسو ياست چې خپله مالي راتلونکې بايد کنټرول کړئ. په جاميکا کې يو مشهور متل دی چې وايي: «پيسې مو سپما کړئ، څو بيا وروسته همدغه پيسې له تاسو ملاتړ وکړي.» شتمن کسان د خپلو دريو نسلونو لپاره پيسې سپما کوي، خو هغه کسان چې له مالي اړخه کمزوري دي، د يوې اونۍ لپاره بيا دا کار کوي. د هوښيارو خلکو لپاره همدا يوه جمله کاپي ده. تاسو کولای شی چې د پيسو ګټلو او سپما په اړه بېلابېل کتابونه ولولئ.
(که غواړئ په دې برخه کې ژر، خو ډېر څه زده کړی، نو زما بل ژباړلی کتاب «ګټه وټه» ولولئ. ژباړن

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



## د فبروري لسمه؛
## د غلې دانې نړیواله ورځ!

غلې دانې د پروټینونو بډایې سرچینې لري او د خوړو مهمه او لویه برخه جوړوي.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د فبروري لسمه | ۵۱۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۱۷ | ۲۱ | ۱٦ | ۲۰ | ۱۸ |
| ۱ | ٦ | ۹ | ۷ | ۹ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۰ | لمر ختل ۰٦:٤٥ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیگر ۰۳:۰۸ | ماښام ۰۵:۳۱ | ماخوستن ۰٦:۵٦

## نړۍ




## گوتریش: د بهرنیو هېوادونو لاسوهنو په لیبیا کې جگړه خونړۍ کړې ده

د ملگرو ملتونو عمومي منشي انتونیو گوتریش ویلي چې د بهرنیانو لاسوهنې د دې لامل شوې چې په لیبیا کې جگړه نوره هم خونړۍ شي.


نوموړي تېره ورځ دغه راز د افریقایي ټولنې په ۳۳مه ناسته کې ویلي چې په لیبیا کې د جگړې د پای ته رسولو لپاره له ښکېلو لورو سره همکارۍ ته تیار دي، خو لومړۍ باید په دغه هېواد کې اوربند وشي.

هغه دغه راز په لیبیا کې د ځینو بهرنیو هېوادونو پر لاسوهنې هم نیوکه کړې او ویلي یې دي چې که دغو هېوادونو مداخله نه وی کړې، کړکېچ دومره نه پراخېده.

دا په داسې حال کې ده چې د لیبیا جگړه وروسته له هغې پراخه شوه، چې د سیمې ځینو هېوادونو د دغه هېواد د پخواني پوځي خلیفه حفتر له ځواکونو ملاتړ وکړ.

حفتر له نږدې یوه کال راپدېخوا هڅه کوي چې د ملگرو ملتونو له لوري پر رسمیت پېژندل شوې ملي یووالي حکومت څخه پلازمېنه طرابلس ونیسي. د راپورونو له مخې، د نوموړي ځواکونو له څو لورو پر دغه ښار بریدونه پیل کړي چې ډېري سیمې یې نیولې دي.

## پاکستاني چارواکي: د پاکستاني طالبانو ویاند احسان الله احسان د حکومت له زندانه تښتېدلی دی



پاکستاني چارواکو ویلي، د پاکستاني طالبانو ویاند احسان الله احسان د حکومت له زندانه تښتېدلی دی.

په ورته وخت کې د دغه هېواد پوځ ویلي چې احسان الله احسان شاوخوا دوه کاله مخکې ځان پوځ ته تسلیم کړی و.

پاکستاني چارواکي داسې مهال له زندانه د هغه د تښتېدو خبره کوي چې څو ورځې مخکې په ټولنیزو رسنیو کې هغه ته منسوب یو غږیز پیغام خپور شو، چې نوموړی پکې ادعا کوي چې له زندانه تښتېدلی او اوس په ترکیه کې دی.

په ورته وخت کې د پاکستان یوې امنیتي سرچینې د فرانسې خبري اژانس ته ویلي چې احسان الله احسان د نورو طالبانو په پېژندلو او موندلو کې د هغوی لپاره یوه غټه سرمایه وه.

دا په داسې حال کې ده چې احسان الله احسان په ۲۰۱۷ ز کال کې د پاکستان پوځ ته ځان تسلیم کړ او بیا یې په ټلوېزیون کې یوه مرکه وکړه، خو د هغه مرکې په پاکستان کې د ځینو خلکو غوسه را وپاروله. د یادونې ده چې د پاکستاني طالبانو تحریک په دغه هېواد کې پر ځینو خونړیو بریدونو تورن دی چې تر ټولو خطرناک برید یې څو کاله مخکې په پېښور کې پر پوځي ښوونځي ډله ییز ځانمرگی برید و، چې لسگونه ماشومان پکې ووژل شول.

## با گذشت شش روز هنوز هم فیصله‌ها دربارۀ تفتیش ویژۀ آرا میان دو کمیسیون ناپدید استند



فیصله‌های کمیسیون شکایات انتخاباتی دربارۀ تفتیش ویژۀ بخشی از ۳۰۰ هزار رأی منازعه برانگیز انتخابات ریاست‌جمهوری در میان کمیسیون شکایات انتخاباتی و کمیسیون مستقل انتخابات ناپدید استند.

ریاست دارالانشاء کمیسیون شکایات انتخاباتی می‌گوید که تمامی فیصله‌های این نهاد به کمیسیون مستقل انتخابات فرستاده شده‌اند، اما کمیسیون مستقل انتخابات می‌گوید که تاکنون این فیصله‌ها را بدست نیاورده‌است.

چمن شاه اعتمادی، رئیس دارالانشاء کمیسیون شکایات گفته است: «ما دیروز(دو روز پیش) آنچه را که از کمیسیون به ما آمده بود، فیصله‌ها و ضمایم آن را کلاً طی مکتوبی توسط دو نفر از کمیشنران کمیسیون شکایات انتخاباتی به کمیسیون مستقل انتخابات ارسال کردیم.»


در عین حال حبیب‌الرحمان ننگ، رئیس دارالانشاء کمیسیون مستقل انتخابات نیز افزوده است: «تیم حقوقی و تخنیکی ما بر تطبیق این فیصله‌ها آماده‌گی دارند و ما انتظار این را داریم که این فیصله‌ها به ما برسد و تا حال بر ما ارسال نشده‌است.»

اما، قطب‌الدین رویدار، یک عضو کمیسیون شکایات انتخاباتی تصمیم‌های فرستاده شده به کمیسیون مستقل انتخابات را به‌نحوی ناقص می‌داند: «آن فیصله‌هایی که امضای کمیشنران است، تاکنون فرستاده نشده‌است و تنها ابلاغیه فرستاده شده‌است.»

این در حالیست که کمیسیون شکایات انتخاباتی، شش روز پیش فیصله کرد که بخشی از ۳۰۰ هزار رأی منازعه برانگیز انتخابات ریاست‌جمهوری باید تفتیش ویژه شوند و این تصمیم را به کمیسیون مستقل انتخابات فرستاد.

## ژوند


## سټرېس مو له خپله ځانه زړه توری کوي



ژور خپگان او سټرېس د انسان د بدن د کمزورۍ تر څنگ، له خپله ځانه د زړه توروالي لامل هم کېږي. ژور خپگان د انسان د خوشاله شېبو مخه نیسي. روحي او ذهني فشار په بشپړه توگه له تاسې توازن اخلي. وگورئ چې څه شی روحي فشار درته پیدا کوي. کله کله ښایي تاسو د روحي فشار احساس وکړی، خو وجه به یې درمعلومه نه وي.

خپل ژوند ته نظر وکړئ چې څه شی مو د دې فشار دلیل دي. ټول هغه کړه وړه چې کوی یې، درسره یادابښت یې کړئ، خپل روحي فشار به پکې احساس کړئ. په لېست کې وگورئ چې په کوم حالت کې ستاسو ناراحتي زیاتېږي؟ کله چې تاسو پوه شی چې کومه وجه یا څېره ستاسې روحي فشار زیاتوي، کوښښ وکړئ چې ترې لرې اوسئ. له روحي فشاره خلاصون وخت ته اړتیا لري. که یو څو اونۍ همدا کار وکړی، بیا به تاسې وگورئ چې روحي فشار به مو ورو ورو کمېږي. له روحي فشار تر خلاصېدو وروسته خپل ځان ته استراحت ورکړئ.

## لیمو مو روغتیا او ښکلا دواړه تضمینوي



د امریکا په کلینیکي غذایي ژورنال کې د خپرې شوې څېړنې له مخې، په لیمو کې په ډېره اندازه موجود ویټامین سي، د دې سبب کېږي چې پر جلد د عمر د تېرېدو گونځې ورو او کمې کړي او د پوستکي خشکي هم راکموي. لیمو ستاسو د ورځنۍ اړتیا نیمایي ویټامین سي برابروي او دا ستاسو د جلد په ساتنه کې مهم رول لري. د وینې لوړ فشار ویرونکې ناروغۍ رامنځ ته کوي، لکه د پښتورگو ناکاره کیدل، د زړه حملې او سکتې. له نیکه مرغه په منظمه توگه د لیمو خوراک ستاسو د وینې د فشار په منظم ساتلو کې مرسته کوي. یوه څېړنه وایي، هغه خلک چې د ورځې یو لیمو خوري او ورسره د ورځې اوه زره قدمه پلی تگ کوي، د وینې فشار له نورمال ساتلو سره مرسته کوي. خو پر دې سربېره، لیمو د وینې د جدي لوړ فشار لپاره درملنه نه شي کیدای، یوازې مرسته کوي. لیمو د (پولي فینولونو) له پلوه بډای دی. لیمو له داسې موادو ډک دي چې له بدو کلسترولو سره جگړه کې مؤثر دي. له دې جملې د لیمو ویټامین سي د خرابو کلسټرولو په کمولو کې د پام وړ اغېز لري.

خپله سوداگري د عزیزي بانک جاري حساب سره بډایه کړئ
• دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوگانې او سفارتونه پرانیستلی شي.
• حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انگلیسي پوندو پرانیستل کیدای شي.
• د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لگښت نه راځي.
• د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیایي پیغام خدمتونه
• د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انگلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندویه فیس څخه اړینې دي.
د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانگې ته ورشئ او یا مونږ سره په 1515 شمیرې اړیکه ونیسئ.

عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af

www.azizibank.af 1515